Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د افغانستان د اقتصادي ودې ټاکوونکي عوامل

نوماند پوهنیار محب الله امیني[۱*]، نوماند پوهنیار حکمت الله خادم[۲]، پوهنیار عبدالمالک نظري[۳]، پوهنیار محمد نعیم کاکړ[۴]، شفیق الله هاشمي[۵]

[۱،۳،۴] اداره او تجارت ځانګه، اقتصاد پوهنځی، هلمند پوهنتون

[۲،۵] مالي او بانکي ځانګه، اقتصاد پوهنځی، هلمند پوهنتون

مسؤل ایمیل ادرس: mohibullahamini8@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۴/۲۸، منل سوي: ۱۴۰۴/۰۶/۰۷، خپره سوي: ۱۴۰۴/۰۶/۳۰ دلیت ګڼه: LSSAJ-2-1-10 مخونه (۴۹-۶۹)

## لنډیز

په دې څېړنه کې د افغانستان د اقتصادي ودې ټاکوونکي عوامل د اقتصادي ودې د تیوریانو له مخې څېړل سویدي. د دې څېړنې اساسي موخه دا وه تر څو د افغانستان په اقتصادي وده باندې د بهرنی مستقیمي پانګونې، بهرنیو مرستو، صادراتو او وارداتو اغېزې وڅېړي. په دې څېړنه کې د کمي میتود په برخه کې د Ordinary least square (OLS) او Co – integration څخه استفاده سوې ده. تر څو د خپلواکو متحولینو اغېزې او اوږدمهاله تړاو وښودل سي. د Ordinary least square (OLS) پایلو وښودل چې بهرنی مستقیمه پانګونه، واردات او صادرات د افغانستان پر اقتصادي وده تاثیرات لري ولي بهرنی مرستي د افغانستان پر اقتصادي وده تاثیرات نلري. د دې تر څنګ د متحولینو د اوږدمهاله تړاو د معلومولو په موخه د Johansen Co – Integration څخه استفاده سویده او لاسته راغلو پایلو یې وښودل چې د ټاکلو سویو متحولینو ترمنځ اوږدمهاله تړاو شتون لري. په دې څېړنه کې د افغانستان په اقتصادي وده باندي تر ټولو زیات تاثیر بهرنی مستقیمه پانګونه لري. د لاسته راغلو پایلو پر اساس څېړونکي د افغانستان اسلامي امارت ته دا سپارښتنه کوي چې د بهرنی مستقیمي پانګونې برخې ته خپله توجه زیاته کړي تر څو لوړه اقتصادي وده لاسته راوړل سي.

**کلیدي کلمې**: بهرنی مرستې؛ بهرنی مستقیمي پانګونې؛ واردات؛ صادرات؛ اقتصادي وده او افغانستان.

## سریزه

افغانستان یو په وچه احاطه شوی او لږ پرمختللی هېواد دی چې په مرکزي آسیا کې موقعیت لري. د افغانستان نفوس شاوخوا ۳۶ میلیونو ته رسېږي او د نفوس له اړخه په نړۍ کې ۴۲م مقام لري. افغانستان د پاکستان، ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان سره ګډې پولې لري، او

ټولټال مساحت یې ۶۵۲٬۰۰۰ کیلومتره مربع دی چې د مساحت له مخې په نړۍ کې ۴۱م مقام لري. دغه هېواد نږدې درې لسیزې په پرله پسې جګړو او سیاسي بې‌ثباتۍ کې ښکېل و، چې پر اقتصاد یې خورا منفي اغېز درلود. خو د دې ټولو امنیتي ګواښونو سره سره، د افغانستان اقتصاد د ۲۰۰۲م کال نه را وروسته نسبي وده او پرمختګ تجربه کړې دی. د ۲۰۰۳م نه تر ۲۰۱۶م پورې د اقتصادي ودې کچه په منځنۍ توګه ۸,۵۳ سلنه وه، چې د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو لوړه کچه بلل کېږي (W. Bank et al., 2018).

د نړیوالو اتحادیو په بنسټ په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو تر ټولو زیاتې پروژې د FDI له اړخه ترسره کړې دي. د افغانستان اقتصاد د نړۍ په کچه د ناخالصو کورنیو تولیداتو (GDP) د تولیدوونکو هېوادونو په برخه کې ۱۲۴م مقام لري، او د نړیوال اقتصاد د محصولاتو د رانیونې له مخې په ۱۰۲م ځای کې دی. د افغانستان د وګړو شمېر شاوخوا ۴۱ میلیونه دی. د ۲۰۲۱م کال تر مخه د هر وګړي لپاره GDP شاوخوا ۳۶۲,۷ امریکایي ډالر و. د افغانستان کلني صادرات په همدې کال کې له ۲ میلیارده ډالرو څخه زیات وو، چې کرنه، معدنیات او ټکنالوژي د ټولو صادراتو ۹۴٪ جوړوي. د هېواد ټول بهرنی پور ۱,۴ میلیارده ډالر و. د افغانستان اقتصادي پرمختګ ته د بهرنیو کارګرانو راتګ، د ګاونډیو هېوادونو سره سوداګریزو لارو پراختیا، او د انرژۍ او معدن سکتورونو وده زمینه برابره کړه. د نړیوالې ټولنې میلیونونه ډالرو مرستې هم د دې پراختیا لامل شوې. سره له دې چې افغانستان د یو ټریلیون ډالرو په ارزښت معدني زیرمې لري، بیا هم د نړۍ له تر ټولو کم پرمختللو هېوادونو څخه شمېرل کېږي.(Joya, 2021)

د افغانستان د بې‌کارۍ کچه لوړه ده او نیمایي وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. د دې وضعیت اصلي لامل په هېواد کې پرله پسې جګړې دي، چې سوداګرو او پانګوالو ته یې زیان رسولی دی. خلک پر ځای د دې چې له یو بل سره جګړې ونه کړي، د نورو هېوادونو سره د پرمختګ لپاره ګډې هڅې نه دي کړي. افغانستان د بهرنیو پانګونو په لټه کې و، څو خپل اقتصاد ښه کړي. د افغانستان تولیدات د ۲۰۰۱م نه تر ۲۰۱۴م کلونو پورې له ۵۰٪ زیات شوي وو، خو د GDPکچه د ۲۰۲۱م کال پورې په پراختیا کې پاتې شوه. د امریکا د ځواکونو له وتلو او د اسلامي امارت د بیا واک ته رسېدو وروسته په ۲۰۲۱م کال کې امریکا پرېکړه وکړه چې د افغانستان د حکومت شاوخوا ۹,۵ میلیارده ډالره شتمنۍ کنګل کړي، څو اسلامي امارت ورته لاسرسی ونه لري.

د افغانستان رسمي پیسې افغاني (AFN) دي، چې د ۱ امریکایي ډالر پر وړاندې شاوخوا ۷۰ افغانۍ تبادله کېږي. دغه هېواد د افغانستان بانک (DAB) لري او په هېواد کې ځینې محلي بانکونه هم فعالیت کوي لکه نړیوال بانک، عزیزي بانک، نوی کابل بانک او پښتني اسلامي بانک (W. Bank et al., 2022).

په پایله کې، سره له دې چې افغانستان د طبیعي منابعو، ځوان کاري ځواک او ستراتېژیک موقعیت له پلوه پراخې اقتصادي وړتیاوې لري، بیا هم اقتصادي وده یې د ګڼو خنډونو سره مخ ده. د همدې لپاره د دې څېړنې اساسي موخه دا ده چې د افغانستان د اقتصادي ودې ټاکوونکي عوامل وڅېړل شي، څو څرګنده شي کوم عوامل د ودې د پیاوړتیا لامل کېږي او کوم یې د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړوي.

## د څېړنې ستونزه

افغانستان د طبیعي زېرمو، ځوان کاري ځواک او جغرافیایي مهم موقعیت لرونکی هېواد دی، خو د اوږدمهالو جګړو، سیاسي بېثباتۍ او د اقتصادي جوړښتونو د کمزورۍ له امله یې اقتصادي وده تر ډېره محدوده پاتې شوې ده. سره له دې چې هېواد له صادراتو، وارداتو، بهرنیو مرستو او بهرنۍ مستقیمې پانګونې څخه د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره د پام وړ فرصتونه لري، بیا هم تر اوسه څرګنده نه ده چې یاد عوامل تر کومه بریده د اقتصادي ودې په بهیر کې مثبت رول لوبولی شي.
په همدې ډول، د صادراتو او وارداتو تر منځ د توازن نشتوالی، د بهرنیو مرستو د اغېزمنتیا په برخه کې د شفافیت کمښت، او د بهرنۍ مستقیمې پانګونې د جذب محدود ظرفیت هغه ستونزې دي چې د افغانستان اقتصادي وده له خنډونو سره مخامخ کړې ده. د همدې له امله، لا هم علمي روښانتیا ته اړتیا شته چې وڅېړل شي ایا یاد عوامل (صادرات، واردات، بهرنۍ مرستې او بهرنۍ پانګونه) واقعاً د افغانستان په اقتصادي وده کې د پام وړ اغېزه لري او که نه، او که لري نو تر ټولو مهم ټاکوونکی عامل کوم یو دی.
نو ځکه د دې څېړنې بنسټیزه ستونزه دا ده چې د افغانستان د اقتصادي ودې د ټاکوونکو عواملو تر منځ د اړیکې څرنګوالی تر اوسه په کافي او کره توګه نه دی روښانه شوی، او دا نه ده معلومه چې کوم عامل د اقتصادي ودې د پیاوړتیا لپاره تر ټولو زیات اهمیت لري.

## دڅېړنې اهمیت

هره څېړنه ځانګړی اهمیت لري، ځکه چې د راتلونکو څېړونکو، پالیسی جوړوونکو او متخصصینو لپاره د نوي فکر او تحلیل لاره هواروي. دا څېړنه د افغانستان د اقتصادي ودې پر ټاکونکو عواملو تمرکز کوي او د ۲۰۰۰م کال څخه تر ۲۰۲۴م کال پورې د اقتصادي پرمختګ پر بېلابېلو فکتورونو رڼا اچوي. د دې څېړنې پایلې به د هغو اشخاصو او ادارو لپاره ګټورې وي چې غواړي د افغانستان اقتصادي وده په ښه توګه درک کړي او د راتلونکي لپاره مؤثرې ستراتیژۍ طرحه کړي.
د دې څېړنې پایلې به راتلونکي څېړونکي وهڅوي، څو د افغانستان د اقتصادي ودې د عواملو نور اړخونه هم وڅېړي او تحلیل کړي. په دې څېړنه کې د هغو پالیسیو، ادارو او ټولنیزو شرایطو تحلیل شوی چې د اقتصادي ودې پر بهیر اغېز لري. دا څېړنه د هغو کسانو لپاره ارزښت لري چې د اقتصادي ودې، پانګونې او د تولید د زیاتوالي سره علاقه لري، ځکه چې له دې څېړنې څخه ترلاسه شوي معلومات کولی شي حکومتي ادارې، خصوصي سکتور او نړیوالې مرستندویه موسسې وهڅوي، څو د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره غوره پالیسۍ غوره کړي.
دا څېړنه څو اړخیز اهمیت لري:
لومړی، د اقتصادي ودې د بهیر د ښه درک لپاره کره معلومات برابروي، چې د راتلونکي پرمختګ لپاره کارېدلی شي.
دویم، دا څېړنه څرګندوي چې څنګه بېلابېل اقتصادي، سیاسي او ټولنیز عوامل د افغانستان د اقتصادي ودې پر پرمختګ اغېز لري، او کوم اصلاحات اړین دي تر څو اقتصادي ثبات ته لاره هواره شي.
دریم، دا څېړنه د اقتصادي پالیسی جوړوونکو ته د تصمیم نیولو لپاره اساسي معلومات برابروي، څو د اقتصادي ودې د چټکولو لپاره غوره ستراتیژۍ غوره کړي.
د دې څېړنې بله مهمه ګټه دا ده چې د افغانستان د اقتصادي ودې د پرمختګ او خنډونو ترمنځ اړیکې روښانه کوي. دا به د حکومت، پانګوالو او سوداګریزو بنسټونو لپاره د پریکړو نیولو بهیر اسانه کړي. سربېره پر دې، دا څېړنه د راتلونکو څېړنو لپاره بنسټ جوړوي، څو د افغانستان د اقتصادي ودې د نورو اړخونو، لکه د کار موندنې، صادراتو او تولیدي سکتورونو پر ودې، نورې څېړنې ترسره شي. دا معلومات کولی شي د راتلونکي لپاره د داسې پالیسیو جوړولو ته لاره هواره کړي چې د افغانستان اقتصاد ته ثبات او پرمختګ راوړي.

## د څېړني موخې

1. د صادراتو، وارداتو، بهرنی مرستو او بهرنی مستقیمي پانگوني اغېزې د افغانستان په اقتصادي وده ښودل
2. د صادراتو، وارداتو، بهرنی مرستو، بهرنی مستقیمي پانگوني، او اقتصادي ودي ترمنځ اوږدمهاله تړاو څېړل.
3. د افغانستان د اقتصادي ودي ټاکوونکو عواملو له جملي څخه مهم تاثیر لرونکی عامل واضح کول.

## د څېړني پوښتني (Research Questions)

1. ایا صادرات، واردات، بهرنی مرستي او بهرنی مستقیمه پانگونه د افغانستان په اقتصادي وده اغېزې لرلای سي؟
2. ایا د صادراتو، وارداتو، بهرنی مرستو، بهرنی مستقیمي پانگوني، او اقتصادي ودي ترمنځ اوږدمهاله تړاو شتون لري؟
3. په افغانستان کي د اقتصادي ودي ټاکوونکو عواملو له جملي څخه کوم یو یې پر اقتصادي وده زیاتي اغېزې لري؟

## د څېړني فرضيې (Reseach Hypothesis)

1. $H_1$: خارجي پانگونه د افغانستان پر اقتصادي وده باندي مثبت او د پام وړ تاثیر لري.
2. $H_1$: صادرات د افغانستان پر اقتصادي وده باندي مثبت او د پام وړ تاثیر لري.
3. $H_1$: واردات د افغانستان پر اقتصادي وده باندي مثبت او د پام وړ تاثیر لري.
4. $H_1$: داخلي پانگونه د افغانستان پر اقتصادي وده باندي مثبت او د پام وړ تاثیر لري.
5. $H_1$: خارجي پانگونه د افغانستان پر اقتصادي وده باندي مثبت او د پام وړ تاثیر لري.

# تیرو څېړنو ته کتنه

## اقتصادي وده

اقتصادي وده د یوې ټولنې د اقتصادي فعالیت د زیاتوالي هغه بهیر دی چې د وخت په تېرېدو سره د ملي تولید (Gross Domestic Product – GDP) د لوړېدو له لارې اندازه کېږي. په بل عبارت، اقتصادي وده د هېواد د تولیدي ظرفیت، پانګونې، او د خلکو د ژوند د معیار په لوړوالي کې ځرګندېږي. اقتصادي وده د هېوادونو لپاره خورا مهم شاخص دی، ځکه چې د هغې له لارې اقتصادي ثبات، ټولنیزه هوساینه، او د خلکو د عاید زیاتوالی تضمینېږي. هر هېواد هڅه کوي چې د اقتصادي ودې د زیاتولو لپاره اغېزمن پلانونه او پالیسۍ جوړې او عملي کړي. اقتصادي وده نه یوازې د عاید کچه لوړوي، بلکې د بېکارۍ د کموالي، د ټولنیزو خدمتونو د ښه کېدو، او د ژوند د کیفیت د لوړوالي لامل هم ګرځي.(Todaro & Smith, 2015)
د اقتصادي ودې د زیاتوالي تر شا ګڼ شمېر عوامل شتون لري، لکه ټیکنالوژي، بشري سرچینې، فزیکي زېرمې، او مالي سرچینې، چې هر یو په ځانګړي ډول د تولید، پانګونې او اقتصادي فعالیت د پراختیا لپاره مهم رول لوبوي. په ځانګړي ډول، خارجي پانګونه د مالي سرچینو یو مهم اړخ ګڼل کېږي، ځکه چې د هغې له لارې د تولید زیاتوالی، د ټیکنالوژۍ انتقال، او د کارموندنې پراختیا ممکن کېږي. له دې امله، د افغانستان د اقتصادي ودې د عواملو مطالعه او د هرې پانګونې اغېز په دقیق ډول پېژندل د هېواد د اقتصادي ثبات او پراختیا لپاره خورا حیاتي اهمیت لري (Barro, 1997; World Bank, 2023).

## ناخالص داخلي تولیدات (GDP)

ناخالص کورنی تولید (Gross Domestic Product – GDP) د یو هېواد د اجناسو او خدماتو مجموعي ارزښت ته ویل کېږي، چې په یوه ټاکلې موده، معمولاً یو کال کې، د هېواد په جغرافیوي حدودو کې تولید او عرضه شوي وي. د GDP محاسبه د اقتصادي فعالیت د اندازه کولو لپاره د درې میتودونو له لارې کېږي: د تولید میتود د ټول هېواد د تولیداتو ارزښت محاسبه کوي، د عاید میتود د تولیداتو له پلور څخه ترلاسه شوي ټول عایدونه، لکه مزدونه، ګټې، اجاره، سود او مالیات، رانغاړي، او د لګښت میتود د دولت، خصوصي سکتور او مصرف کوونکو ټول لګښتونه، په شمول د شخصي مصرف، خصوصي پانګونې، دولتي لګښتونه او صادرات، په پام کې نیسي (Todaro

& Smith, 2015; IMF, 2022). GDP د هېواد د اقتصادي ودې او فعالیت تر ټولو مهم شاخص دی، خو یوازې د GDP زیاتوالی د ټولنې د سوکالۍ بشپړ انځور نه وړاندې کوي، ځکه چې دا یوازې کمیتي اړخونه ښیي او د ژوند کیفیت، اقتصادي نابرابري، او چاپېریالي پایښت نه منعکسوي. د خلکو د ژوند د سطحې د دقیقې اندازه کولو لپاره، GDP per capita تر ټولو مناسب شاخص ګڼل کېږي، ځکه دا د هر وګړي د عاید منځنۍ کچه څرګندوي او د اقتصادي هوساینې له ارزونې سره مستقیم تړاو لري (World Bank, 2023).

که څه هم GDP د اقتصادي ودې مهمه اندازه ده، د اقتصادي څېړونکو او سیاستوالو له نظره د اقتصاد اندازه کولو لپاره ځینې نور شاخصونه هم کارېدلی شي چې نه یوازې کمیتي، بلکې کیفیتي فکتورونه هم شاملوي. د دې لپاره ځینې مهم بدیل شاخصونه عبارت دي له: د بشري پرمختګ شاخص (HDI) چې د عاید، روغتیا، او زده کړو پراساس د خلکو ژوند معیار اندازه کوي؛ د ټولنیز پرمختګ شاخص (SPI) چې د زده کړې، روغتیا، او چاپېریالي پایښت ارزونه کوي؛ او د ناخالص ملي خوشحالي شاخص (GNH) چې د ژوند کیفیت، روحي آرامتیا، او ټولنیزو اړیکو اندازه کوي (Voda, 2022; UNDP, 2021). دغه شاخصونه د GDP بدیل په بشپړه توګه نه ګڼل کېږي، بلکې د GDP محدودیتونو د پوره کولو او د اقتصادي ودې د پراخې انځور وړاندې کولو لپاره کارول کېږي. اقتصادي وده د یو هېواد د تولید، عوایدو، او خدماتو د دوامداره زیاتوالي بهیر ته ویل کېږي، چې له لارې یې د خلکو ژوند ښه کېږي، د بېکارۍ کچه کمه کېږي، او د ملي اقتصاد ثبات تضمین کېږي. د مالي سیاستونو، د مالیاتو سیستم، او دولتي پانګونو اغېزمن مدیریت د اقتصادي ودې پر بقا او دوامداره پرمختګ مهم رول لوبوي (Barro, 1997; World Bank, 2023).

## صادرات (Exports)

صادرات هغه توکي او خدمات دي چې یو هېواد نورو هېوادونو ته پلورې یا صادر کوي. صادرات د یوه هېواد لپاره مهم دي، ځکه چې د بهرنیو بازارونو ته توکي او خدمات لېږدول د ګټو ترلاسه کولو، د هیواد د پیسو داخلي جریان زیاتولو، او د نړیوالو اړیکو پراختیا لپاره اساس دي. د صادراتو پراختیا د هر هېواد لپاره د اقتصادي ودې او اقتصادي پرمختګ، او نړیوالو اړیکو ساتلو لپاره حیاتي اهمیت لري.افغانستان د ۲۰۰۰ کال څخه تر ۲۰۲۰ کال پورې د جګړو او سیاسي بې ثباتۍ سره مخ و، د خپلو صادراتو د ودې په لاره کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوی و. دغه وخت د افغانستان لپاره د نړیوالو مرستو، اقتصادي اصلاحاتو، او د بازارونو پراختیا لپاره یو کلیدي مرحله وه. د افغانستان

اقتصادي وضعیت د ۲۰۰۰ کال مخکې ډېر کمزوری و، د نړیوالو اړیکو محدودیت موجود و، او د بهرنیو مرستو کموالی موجود و. په ۲۰۰۲ کال کې افغانستان د بیا رغونې پروسې ته ورننوت، له نړیوالو مرستو ګټه پورته کړه، او په خپل اقتصادي سیستم کې ځینې اصلاحات ترسره کړل، چې نړیوالې ټولنې په مختلفو برخو کې پانګونه وکړه او افغانستان ته د ترانسپورتي، مالي، او تخنیکي مرستو لپاره زمینه برابره کړه. د دې پروسې سره سم، ځینې صادراتي سکتورونه لکه زراعت، معدني منابع، او ځینې صنعتي تولیدات د پراختیا په لور روان شول. ځینې ستونزې چې د صادراتو په برخه کې رامنځته شوي وې، لکه په افغانستان کې د جګړو دوام او سیاسي بې ثباتي، د صادراتو پراختیا ته ستره ستونزه وه. تر ډېره د ناامنۍ له امله د صادراتو د ټرانزیټ لپاره اړین زیربناوې او مواصلاتي لارې نه وې موجودې، او د هېواد له حدودو څخه بهر د محصولاتو لیږد یو جدي خنډ و. دا وضعیت د بهرنیو پانګوالو لپاره هم د شک او تردید لامل و. له بلې خوا، افغانستان د خپلو صادراتو لپاره د مناسبې ترانسپورتي شبکې له کموالي سره مخ و، د سړکونو خرابوالی، د بندرونو کمښت، او د هوايي سفرونو محدودیتونه د افغانستان د صادراتو لپاره لوی خنډونه جوړ کړل. د دې ترڅنګ، د ټرانزیټ په سیستم کې نواقص موجود وو، چې له امله یې د هېواد د محصولاتو نړیوالو بازارونو ته رسېدل ستونزمن وو. سره له دې چې افغانستان د صادراتو په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ و، خو ځینې مهم پرمختګونه هم وشول. د افغانستان صادرات په مختلفو برخو کې زیات شول، او ځینې برخې یې په ځانګړې توګه د نړیوالو بازارونو لپاره په خورا مهمو تولیداتو بدل شوې. د افغانستان د صادراتو لویه برخه د زراعت محصولات دي. دغه هېواد د خپلو مېوو، مغزو، او دانو په صادراتو کې مهم پرمختګ وکړ. د ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۲۰ پورې، افغانستان د ځینو بهرنیو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو پراختیا پیل کړه، پاکستان، هند، ایران، او چین د افغانستان د صادراتو لپاره مهم بازارونه وو. د افغانستان صادرات د پاکستان له لارې د نړیوالو بازارونو ته لاړ، او له دې سره د افغانستان صادرات په ګاونډیو هېوادونو کې زیات شول. ویلای شو چې صادرات د افغانستان پر اقتصادي وده په پرمختګ د پام وړ او مثبت تاثیر لري (World Bank, 2000–2020).

**واردات (Imports)**

واردات هغه توکي او خدمات دي چې یو هېواد له بل هېواد څخه اخلي یا واردوي. دا توکي د مصرف، تولید، یا نورو اقتصادي فعالیتونو لپاره کارول کېږي. واردات د یوه هېواد د اړتیاوو پوره کولو او تولیداتو ته پراختیا ورکولو لپاره مهم دي. افغانستان د خپلو تولیدي ظرفیتونو د کمښت له

کبله وارداتو ته اړتیا درلوده. په دې وخت کې د خوراکي توکو، د رغونې موادو، د انرژۍ منابعو، او درملو واردات د هېواد د اړتیاوو بنسټیزه برخه تشکیلوله.

د ۲۰۰۰ تر ۲۰۱۰ کال پورې افغانستان د پاکستان، ایران، او چین په څېر ګاونډیو هېوادونو څخه ډېرې واردات درلود. پاکستان د خوراکي توکو، درملو، او سمنټو لوی صادرونکی و، چین د ټکنالوژۍ وسایل او ماشین آلات برابرول، او ایران د انرژۍ منابع لکه تېل او ګاز برابره ول. دغه وخت کې افغانستان د خورا زیاتو نړیوالو مرستو او سوداګریزو تړونونو څخه برخمن شو، خو د جګړو او امنیتي کړکیچونو له امله په داخلي پرمختګ کې لاهم ستونزې موجودې وې.

په ۲۰۱۰ کال وروسته د اقتصادي وضعیت د ښه کولو هڅې پراخې شوې، چې د افغانستان د اقتصاد د بیارغونې لپاره د نړیوالو مرستو، سوداګریزو تړونونو، او په ځانګړي توګه د امریکایي ملاتړ له لارې زیاته شوې. د دې کلونو په اوږدو کې د وارداتو حجم او پراختیا زیات شو. افغانستان د ځینو مهمو توکو لکه غنم، شکر، او اوړه واردول او د کورنیو جوړښتونو مواد هم واردول. د درملو واردات هم د روغتیا په برخه کې لویه اړتیا وه.

د ۲۰۱۴ کال وروسته د سوداګرۍ د شرایطو سمولو په نتیجه کې، افغانستان هڅه وکړه چې د ګاونډیو هېوادونو لکه ایران، پاکستان، چین، او منځنۍ آسیا هېوادونو سره خپل تجارتي اړیکې پراخې کړي. واردات د یو هېواد د اقتصادي ودې لپاره اړین دي، خو د وارداتو کچه باید داسې و ټاکل شي چې د محلي تولیداتو پراختیا او اقتصادي توازن تضمین شي (World Bank, 2000–2020).

**بهرني مستقیمه پانګه اچونه (FDI)**

خارجي پانګونه هغه پروسه ده چې د یو هېواد اوسیدونکي د تولید، توزیع، یا کنټرول په هدف، یا د نورو اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په بل هېواد کې د شتمنۍ مالکیت ترلاسه کوي.

بهرنۍ مستقیمه پانګه اچونه (FDI) په یوه هېواد کې د تولید یا سوداګرۍ مستقیمه پانګه اچونه ده، چې د یو هېواد لخوا په بل هېواد کې یا په ټاکلي هېواد کې د موجوده سوداګرۍ د عملیاتو پراخولو په موخه ترسره کېږي. د افغانستان اقتصاد باندې بهرنۍ مستقیمې پانګونې اغیزې لري. څېړنې ښیي چې FDI د افغانستان په اقتصادي وده کې د پام وړ او مثبت اغیز لري.

د بیلګې په توګه، په ۲۰۰۱ میلادي کال کې د افغانستان د سړي سر ناخالص عاید یوازې ۱۲۰ ډالره و، خو په ۲۰۱۲ کال کې ۶۹۱ ډالرو ته ورسېد. په ۲۰۰۵ کال کې د بهرنیو پانګوونې اندازه ۲۷۱ میلیونه ډالره وه، چې د سړي سر عاید کې هم زیاتوالی راوست. څېړنې ښیي چې په افغانستان کې

د FDI په کچه کې ۱٪ زیاتوالی د ۵,۵۲ واحده GDP وده رامنځته کوي. له همدې امله، کله چې د FDI کچه لوړه شي، سړي سر ناخالص تولید زیاتېږي او اقتصاد وده کوي.

د افغانستان حکومت په ټولنیز ډول په خپلو پالیسو کې ډېر بدلونونه راوستي ترڅو افغانستان د پانګونې لپاره یو دوست هېواد شي. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې د سوداګرۍ په برخه کې ۴۹ مقام خپل کړ. په نړیواله سطحه، افغانستان د FDI راجلبولو لپاره په سوداګرۍ کې ۱۰۰٪ مالکیت حق لري. په خامو موادو د تولید برخه کې یوازې ۱٪ محصول لري.

په افریقا کې ترسره شوې څېړنې ښيي چې FDI په اقتصادي وده کې د پام وړ یا محدود اغیز لري. څېړنې وړاندیز کوي چې په افریقایي هېوادونو کې د FDI په کچه کې ۱٪ زیاتوالی په نایجیریا کې ۰,۰۳٪، په مصر کې ۰,۰۵٪، په ګیني کې ۰,۰۲٪، په سویلي افریقا کې ۰,۰۴٪، او د مرکزي افریقا په GDP کې یوازې ۱٪ زیاتوالی رامنځته کوي.

ټولې څېړنې وړاندیز کوي چې سیاسي اصلاحات، د شخړو کمول، او د فساد سره مبارزه کولی شي FDIزیات کړي او په اقتصادي وده کې یې اغیز زیات کړي.(Hameedi et al., 2000)

**د اقتصادي ودې تیوریانې**

د اقتصادي ودې نظریې د کلونو راهیسې شتون لري او د سپما او پانګه اچونې رول د اقتصاد په پرمختګ کې تشریح کوي. د اقتصادي ودې په تیوریو کې دوه مشهورې نظریې شتون لري چې د کوربه هېوادونو په اقتصادي وده او د بهرني پانګونې اغیز باندې تمرکز کوي:

۱) Exogenous Growth Theory. **نیو کلاسیکي ودې تیوري**:(د دې تیورۍ له مخې، بهرني پانګونه د کوربه هېواد اقتصادي وده په غیر مستقیم ډول متاثره کوي. دغه نظریه وړاندیز کوي چې د بهرنیو پانګوونې له لارې اقتصادي وده کې پرمختګ ترلاسه کېږي، خو د ودې اصلي محرکونه د اقتصاد له بهرنیو عواملو سرچینه اخلي.

۲) Endogenous Growth Theory. **د اقتصادي ودې نوې تیوري**:(د دې تیورۍ له مخې، مستقیمه FDI د کوربه هېواد اقتصادي وده په مستقیم او غیر مستقیم ډول متاثره کوي. دغه نظریه د اقتصادي ودې نوې لارې وړاندیزوي او څرګندوي چې پانګه اچونه او انساني منابع د اقتصادي ودې د دوامداره پرمختګ اصلي محرکات دي.

## د څېړني مفهومي چوکاټ (Conceptual Framework)

دا چوکاټ د شته متحولونو په پام کې نیولو سره ترتیب شوی دی، چیرې چې اقتصادي وده د تابع متحول په توګه راځي. په دې چوکاټ کې صادرات، واردات، بهرنۍ مستقیمه پانګه اچونه، او بهرنۍ مرستې خپلواک متحولونه دي. دا خپلواک متحولونه د اقتصادي ودې پر لور مستقیم یا غیر مستقیم اغېز سلري، ځکه چې د بهرنیو پانګوالو پانګونه، د صادراتو او وارداتو حجم، او نړیوالې مالي مرستې د هېواد اقتصادي فعالیتونه تنظیموي او اقتصادي وده هڅوي.

شکل ۱: د څېړني مفهومي چوکاټ




(منبع: د څېړونکي تحلیل)

## مواد او کړنلاره

په دې څېړنه کې د Longitudinal Design څخه کار اخیستل شوی دی. په دې ډیزاین کې وختي لړۍ معلومات (Time Series Data) کارول شوي دي. د څېړني لپاره د دوهم لاس معلوماتو څخه استفاده شوې، چې د ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۲۴ کاله پورې د بهرني پانګونې، اقتصادي ودې، انفلاسیون، بهرني تجارت او حقیقي سود نرخ اړوند ډاټا راټول شوي ده.

دا ډاټا د نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق(IMF) ، او د افغانستان د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې (NSIA)څخه ترلاسه شوې ده.
همدارنګه، په دې څیړنه کې د ایکنومتریک ماډل څخه کار اخیستل شوی، چیرې چې اقتصادي وده د تابع متحول په حیث، او بهرني پانګونه، صادرات، واردات، او داخلي پانګونه د خپلواکو متحولینو په حیث فرض شوي دي.
د څیړنې ډاټا سلسله هغه ډاټا ته ویل کیږي چې د یوې موضوع په اړه د کلونو په جریان کې راټول شوې وي. په دې ډاټا سلسله کې د Unit Root ټستونه ترسره شوي، د متحولینو د اړیکو معلومولو لپاره د Co-integration relationship ټیسټ تطبیق شوی، د احصایوي تحلیل لپاره د Johansen Co-integration Test څخه استفاده شوې، او د تیروتنو د اصلاح لپاره د Ordinary Least Squares (OLS) کارول شوي دي.

## نتیجه او مناقشه

### د Ordinary Least Square (OLS) Regression پایلې

د Ordinary Least Square (OLS) Regression پایلو څخه څرګندیږي، چې بهرنۍ مستیقمه پانګونه (Beta = 0.84425) & (Sig. 0.0356) ارزښتونو په ترلاسه کولو سره په اقتصادي وده مثبت او د پام وړ تاثیرات لري، بهرنۍ مرستې د (Beta = -0.741554) & (Sig. 0.1733) په ترلاسه کولو سره د افغانستان پر اقتصادي وده تاثیرات نلري، صادرات د (Beta = -0.626041) & (Sig. 0.0495) په درلودلو سره د افغانستان په اقتصادي وده منفي او د پام وړ تاثیرات لري، او ورادات د (Beta = 0.823801) & (Sig. 0.0173) په لرلو سره د افغانستان په اقتصادي وده مثبت او د پام وړ تاثیرات لري. په موډل کې د ټولو خپلواکو متحولینو تاثیر پر تابع متحول باندې (R Square = 0.881640) ښیې چې ټول خپلواک ټاکل سوي متحولین په تابع متحول کې (88.16) سلنه تغیرات تشریح کولای سي. په لاندې جدول کې د ټولو متحولینو لاسته راغلې پایلې ځای پرځای سوي دي.

*جدول ۱: د OLS پایلې*

| Variables | Coefficients | Std. error | Prob. |
|---|---|---|---|
| Const. | 1.76663 | 0.64184 | 0.0126 |
| FDI | 0.84425 | 0.88380 | 0.0356 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ODA | -0.74155 | 0.47993 | 0.1733 |
| Export | -0.626041 | 4.55507 | 0.0495 |
| Import | 0.823801 | 0.32644 | 0.0173 |
| R Square | 0.881640 | F Statistic | 37.24417 |
| Adj. R Square | 0.857969 | Prob. (F Statistic) | 0.000000 |

منبع: د Eviews څخه لاسته راغلي پايلي

د پورته لاسته راغلو پايلو په اساس لاندي رياضيکي موډل ترتيب سويدی :

Y (GDP) = F (FDI, ODA, EXP, IMP)

GDP = 1.76663 + 0.84425 FDI – 0.74155 ODA – 0.62604 EXP + 0.823801 IMP

د پورته پايلو له مخي صادارات د افغانستان په اقتصادي وده باندي منفي تاثيرات لري، ولي د اقتصادي تيوريانو له مخي صادرات په اقتصادي وده باندي مثبت تاثيرات لري دا چي ولي د افغانستان په اقتصادي وده صادرات منفي تاثيرات لري په دې اړه بايد يوه بېله څېړنه ترسره سي تر څو وښودل سي چي ولي د افغانستان صادرات په اقتصادي وده منفي تاثيرات لري.

**د Unit Root ټېسټ پايلي**

د (Time Series) ډاټا د (Stationary) د کتلو لپاره د Augmented Dicky Fuller (ADF) ټيسټ څخه استفاده سوې ده، تر څو وکتل سي چي راټوله سوې ډاټا (Stationary) لري او که نه نو د همدې موخي د لاسته راوړلو په موخه د پورته احصائيوي تخنيک څخه استفاده سوېده، د ټېسټ څخه لاسته راغلي پايلي ښيي چي ټوله متحولين په (Level) کي د (Unit root) ستونزه لري او په لومړي توپير (First Order) کي ټول متحولين (Stationary) لري. په ترتيب سره اقتصادي وده د (0.0331) & (-3.3209)، بهرنی مستقيمه پانګونه (0.0012) & (-3.2598)، بهرنی مرستي (-3.2598) & (0.0093)، صادرات (0.0239) & (-3.2598)، او واردات (0.0309) & (-3.3209) ارزښتونو په درلودلو سره ټول په لومړی توپير (First Order) کي (Stationary) لري.

*جدول۲: د ډاټا د ثبات په موخه د (Unit Root Test) پایلي*

| Variables | Augmented Dicky Fuller Statistic | | | | Remarks |
|---|---|---|---|---|---|
| | At level | | At First difference | | |
| | Critical Value at 5% | P Value | Critical Value at 5% | P Value | |
| GDP | -3.2126 | 0.1947 | -3.3209 | 0.0331 | I(1) |
| FDI | -3.2598 | 0.9921 | -3.2598 | 0.0012 | I(1) |
| ODA | -3.2126 | 0.4658 | -3.2598 | 0.0093 | I(1) |
| Export | -3.2598 | 0.0785 | -3.2598 | 0.0239 | I(1) |
| Import | -3.29380 | 0.7723 | -3.3209 | 0.0309 | I(1) |

منبع: د Eviews څخه لاسته راغلي پایلي

**د Johansen Co integration Test پایلي**

په دې څېړنه کې د جانسن کوانټېګرېشن ټیسټ ترسره شویدی چې د متحولینو ترمنځ د اوږدمهاله اړیکو د تحلیل لپاره کارول شوې دا څېړنه څلور خپلواک متحولات او یو تابع متحول ارزوي، چې له تحلیلي پایلو وروسته دا معلومه شوې چې د ناخالصو تولیداتو، صادراتو، وارداتو، بهرنۍ مستقیمې پانګونې، او بهرنیو مرستو، ترمنځ د اوږدمهاله اړیکي شتون لري دا پایلې ښیي چې یاد متحولونه یو د بل سره اوږد مهاله اړیکه لري.

*جدول۳: د Johansen Co integration Test پایلي*

| No. of Hypothesized CE (s) | Trace Statistic | Critical Value | Prob. | Max. Eigen Statistic | Critical Value | P Value |
|---|---|---|---|---|---|---|
| None | 12.2343 | 15.9988 | 0.00465 | 0.26542 | 12.2298 | 0.0280 |
| At most 1 | 16.9299 | 48.7834 | 0.3230 | 14.4423 | 25.9888 | 0.3296 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| At most 2 | 11.6154 | 25.8011 | 0.7098 | 13.9325 | 16.3219 | 0.0988 |
| At most 3 | 12.7688 | 12.8897 | 0.3230 | 14.4423 | 22.3672 | 0.2477 |
| At most 4 | 10.7698 | 18.8744 | 0.0830 | 21.3476 | 28.9280 | 0.3896 |

منبع: د Eviews څخه لاسته راغلي پایلي

$H_0$: Co-integrating equation does not exist

$H_1$: Greater than zero co-integration equation exists

دجانسن کوانټګریشن ټیسټ مو د دې لپاره ترسره کړی، ترڅو د متحویلینو ترمنځ اوږدمهاله اړیکي (Long-run Associations) وڅېړو مونږ ده دی څېړنی لپارهچي کوم متحویلونهانتخاب کړي، چې د څېړني لپاره مهم دي، او زمونږ هدف دا دی چې د خپلواک متحویلونو (Independent Variables) تاثیرات پر تابع متحویل (Dependent Variable) وښیو مونږ غواړو دا معلومه کړو چې آیا دغه متحویلونه په اوږدمهاله موده کې یو له بل سره اړیکه لري که نه، یعني همبستګي (Counteraction) لري که نه د دې اړیکو د ارزولو لپاره، مونږ د **جانسن کو انټګریشن ټیسټ** (Johansen counteraction Test) ټیسټکارولی دی.

**فرضیې :**

$H_0$: **صفر فرضیه :** (د دمتحویلنو ترمنځ اوږدمهاله اړیکه نشته.

$H_1$: **متبادله فرضیه :** (د دمتحویلنو ترمنځ اوږدمهاله اړیکه شته.

که $H_1$ ومنل شي، نو دا معنی لري چې متحویلونه اوږدمهاله اړیکه لري، یعني یو متحویل د بل متحویل اړیکه ښیي

خو که $H_0$ ومنل شي، دا ښیي چې متحویلونه اوږدمهاله اړیکه نه لري.

په دې ترتیب، که $H_1$ ومنو، نو $H_0$ فرضیه ردوو.

## مناقشه

زموږ د څېړني پایلي ښیي چې بهرنی مستقیمه پانګونه په افغانستان کې د اقتصادي ودې پر مثبت او د پام وړ اغیز لري .(Beta = 0.84425, Sig. = 0.0356) دا پایله څرګندوي چې FDI د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره مهم محرک دی. د مالیزیا د 1971–2013 کلونو څېړنه هم ښیي چې FDI د

اقتصادي ودې سره مثبت تړاو لري او د ناخالص کورني تولید د ودې ملاتړ کوي (Aznin et al., 2014).دغه موندنې د دواړو هېوادونو په شرایطو کې د FDI د اغېز پر اهمیت ټینګار کوي، که څه هم د هیوادونو اقتصادي چاپېریال او سکتوري جوړښتونه توپیر لري.

زموږ څېړنه ښيي چې بهرني مرستې په افغانستان کې پر اقتصادي ودې د پام وړ اغېز نه لري (Beta =-0.741554, Sig. = 0.1733).په سعودي عربستان کې څېړنې څرګندوي چې وارداتي مرستې GDPته د پام وړ اغېز نه لري، او یوازې صادرات د اقتصادي ودې لپاره محرک ګڼل شوي (Alhowaish, 2014).په دې ډول، زموږ موندنې د نورو څېړنو سره مطابقت لري، چې د بهرنيو مرستو مستقیم اغېز د اقتصادي ودې لپاره محدود یا غیر محسوس دی.

زموږ څېړنه ښيي چې صادرات د افغانستان په اقتصادي وده منفي او د پام وړ اغېز لري (Beta = -0.626041, Sig. = 0.0495).د اقتصادي تیوریو له مخې، عموماً صادرات په اقتصادي وده مثبت اغېز لري، خو زموږ پایله د افغانستان ځانګړو شرایطو ته اشاره کوي، چې ولې صادرات منفي اغېز لري. په سعودي عربستان کې څېړنه ښيي چې صادرات د GDP لپاره بنسټیز رول لري او د اوږدمهاله ودې محرک ګڼل کېږي (Alhowaish, 2014). په ایران کې څېړنه هم څرګندوي چې د تېلو پرته صادرات د اقتصادي ودې پر مثبتو عواملو بدل شوي دي (Alavinasab & Ph, 2013). په مالیزیا کې هم صادرات د GDP د ودې لپاره مثبت او مهم اغېز لري (Aznin et al., 2014). په هند کې هم صادرات GDP ته مثبت اغېز لري او د وارداتو په پرتله ډېر نفوذ لري (Kumari, 2014). په امریکا کې هم صادرات اقتصادي ودې ته اوږدمهاله مثبت اغېز لري (Bakari & Tiba, 2022). د دې موندنو په رڼا کې، د افغانستان منفي اغېز ښایي د داخلي صنعتي ظرفیتونو کمزورتیا، د نړیوالو بازارونو محدودیتونه، او د صادراتو د تنوع نشتوالی سره تړاو ولري.

زموږ څېړنه ښيي چې واردات د افغانستان په اقتصادي وده مثبت او د پام وړ اغېز لري (Beta = 0.823801, Sig. = 0.0173).په سعودي عربستان کې څېړنه څرګندوي چې واردات د GDP لپاره مستقیم اغېز نه لري(Alhowaish, 2014) ، په ایران کې واردات منفي اغېز لري (Alavinasab & Ph, 2013)، او په هند کې واردات په غیر مستقیم ډول GDP ته اغېز لري، خو د صادراتو د ملاتړ وسیله ګڼل کېږي (Kumari, 2014). په امریکا کې هم واردات په اوږدمهاله کې د اقتصادي ودې لپاره منفي اغېز ښودل شوی (Bakari & Tiba, 2022). له دې څخه څرګندیږي چې په افغانستان

کې واردات مثبت اغېز لري، خو د دې اغېز د دوام لپاره اړتیا ده چې واردات د داخلي تولیداتو او اقتصادي سیاستونو سره همغږي شي.

د څېړنې پایلې څرګندوي چې د افغانستان اقتصادي وده د FDI او وارداتو له لارې هڅول کیږي، په داسې حال کې چې صادرات او بهرني مرستې د پام وړ مثبت اغېز نه لري یا منفي اغېز لري. د نورو هېوادونو څېړنې (سعودي عربستان، ایران، مالیزیا، هند، امریکا) ښیې چې FDI او صادرات په اقتصادي وده کې مهم رول لري، او واردات د دوامدارې اقتصادي ودې لپاره د صادراتو تمویل او ملاتړ وسیله ګڼل کیږي. له همدې امله، د افغانستان لپاره د پالیسۍ وړاندیز دا دی چې د صادراتو د مثبت اغېز زیاتولو لپاره د صنعتي ظرفیتونو پراختیا، د بازار د تنوع زیاتوالی، او د داخلي اقتصادي چاپېریال ښه کول اړین دي. په ورته وخت کې، FDI او واردات باید د اقتصادي ودې د اساسي محرکاتو په توګه مدیریت او تنظیم شي.

## پایله

په دې څېړنه کې د افغانستان د اقتصادي ودې ټاکونکي عوامل د اقتصادي ودې د تیوریو له مخې تحلیل شوي دي د دې څېړنې اساسي موخه دا وه چې د افغانستان پر اقتصادي وده د بهرني مستقیمې پانګونې، بهرنیو مرستو، صادراتو او وارداتو اغېزې وڅېړل شي د څېړنې لپاره د کمي میتود کارول شوی، چې پکې د Ordinary Least Squares (OLS) او Co-integration طریقې څخه استفاده شوې ده، ترڅو د خپلواکو متحویلینواغېزې او اوږدمهاله تړاو معلوم شي. د Ordinary Least Squares (OLS)پایلو وښودل چې بهرنۍ مستقیمه پانګونه، واردات او صادرات د افغانستان پر اقتصادي وده اغېز لري، خو بهرني مرستې د افغانستان پر اقتصادي وده هېڅ تاثیر نه لري همدارنګه (R Square = 0.881640) ښیې چې ټول خپلواک ټاکل سوي متحولین په تابع متحول کې (88.16) سلنه تغیرات تشریح کولای سي د متحولینو د اوږدمهاله تړاو د معلومولو لپاره د Johansen Co-integrationازموینه تر سره شوې، چې پایلې یې ښیي د ټاکل شویو متحولینو ترمنځ اوږدمهاله اړیکه شتون لري. په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې د افغانستان پر اقتصادي وده تر ټولو زیات تاثیر بهرنۍ مستقیمه پانګونه لري د OLS Regression پایلې څرګندوي چې بهرنۍ مستقیمه پانګونه د لوړ ارزښت په لرلو سره د اقتصادي ودې لپاره مثبت او د پام وړ تاثیر لري برعکس، بهرني مرستې د افغانستان پر اقتصادي وده هېڅ اغېز نه لري، صادرات منفي او د پام وړ

تاثیر لري، او واردات بیا مثبت او د پام وړ تاثیر لري د Unit Root ازموینې پایلې ښیي چې ټول متحولین په لومړي توپیر (First Order) کې سټیشنري یا ثبات لري دي، یعنې په (Level) کې سټیشنري نه لری، خو په لومړي توپیر کې ثبات یا سټیشنري لري د Johansen Co-integration پایلو له مخې، ټول متحولین یو له بل سره اوږدمهاله اړیکه لري.

## وړاندیزونه

د دې څېړنې د پایلو پر بنسټ لاندې وړاندیزونه وړاندې کیږي

1. د بهرنۍ پانګوالو لپاره د باور او امنیت فضا رامنځته کول، ترڅو دوی ته پانګونه اسانه شي.
2. د پانګوالو لپاره د اسانتیاوو برابرول، لکه د مالیاتو معافیت، د قانوني خنډونو کمول، او د پانګونې د پروسو ساده کول.
3. د صادراتو د ودې لپاره د تولیدي سکتور پراخولو ته توجه، ترڅو د داخلي تولید ظرفیت لوړ شي او افغانستان وکولی شي په نړیوال بازار کې سیالي وکړي.
4. د اقتصادي پالیسیو اصلاح، د سوداګریزو تړونونو پراخول، او د نړیوالو بازارونو سره د ارتباطاتو پیاوړتیا
5. د کورني تولید د ودې لپاره د وارداتي توکو پر ځای د افغاني محصولاتو تولید ته وده ورکول، ترڅو د سوداګرۍ توازن اصلاح شي.
6. د خصوصي سکتور د پیاوړتیا لپاره د مالي سرچینو برابرول او د کاروباري چاپېریال ښه کول.
7. د بشري منابعو وده او د کارګرانو لپاره د تخنیکي مهارتونو پراخول، ترڅو د تولیدي سکتور اړتیاوې پوره کړي او کارموندنه زیاته شي.
8. د زیربنایي پروژو پراخول، لکه د برېښنا، سړکونو، ریل پټلۍ، او مخابراتي شبکو پراختیا، ترڅو اقتصادي ودې ته لاره هواره شي.

د دې ګامونو په عملي کولو سره، افغانستان کولای شي یو باثباته او پیاوړی اقتصادي وده رامنځته کړي.

# اخځلیکونه

Abcke, P. (1966). *ECONOMIC DEVELOPMENT IN AFGHANISTAN AND ITS OBTACLES*. 345–357.

Alavinasab, S. M., & Ph, D. (2013). *Foreign Trade and Economic Growth in Iran : An Empirical Study*. *3*(11), 508–519.

Alhowaish, A. (2014). *Exports , Imports and Economic Growth in Saudi Arabia : An Application of Cointegration and Error-Correction Modeling*. *October*.

Aznin, N., Bakar, A., Azam, M., & Hassan, S. (2014). *Exports , foreign direct investment and economic growth : Empirical evidence EXPORTS , FOREIGN DIRECT INVESTMENT AND ECONOMIC GROWTH : EMPIRICAL EVIDENCE FROM MALAYSIA ( 1971-2013 )*. *June*. https://doi.org/10.3844/ajassp.2014.1010.1015

Bakari, S., & Tiba, S. (2022). *DETERMINANTS OF ECONOMIC GROWTH : THE CASE OF THE UNITED STATES OF AMERICA*. *7*(1), 29–44. https://doi.org/10.20473/jde.v7i1.34414

Bank, T. H. E. W. (2022). *AFGHANISTAN ECONOMIC MONITOR*.

Bank, T. H. E. W. (2023). *AFGHANISTAN ECONOMIC MONITOR AFGHANISTAN ECONOMIC MONITOR*.

Bank, W., Afghan, T., & States, U. (2022). *Economy of Afghanistan*. *7*.

*Floor, India Habitat Centre, Lodi Road, New Delhi-110 003 Website: www.icrier.org*. (2005). *January*.

Hameedi, M. H., Odebiyi, F., & Hinderliter, E. (2000). *Economic Growth in Afghanistan: An Analysis from*. *January*, 0–66.

Hassan, M. M. (2008). *Munich Personal RePEc Archive The Determinants of Corporate Growth*. *24336*.

*IMF-ED*. (n.d.).

Joya, O. (2021). *Afghanistan Post-2021 : The New Political Economy of Growth*.

Kumari, J. (2014). *Export , Import and Economic Growth in India : A*

*Study Export , Import and Economic Growth in India : A Study*. *14*(1), 62–73.

Majka, M., & Poland, N. T. (2024). *Ordinary Least Squares*. *September*.

Moral-benito, E. (2009). *Determinants of Economic Growth A Bayesian Panel Data Approach*. *February*.

Palmer, N. T. (2012). *Article: The Importance of Economic Growth*. *March*, 1–6.

Roy, T., & Roy, T. (2020). *Reading the Economic History of Afghanistan*. *44*(October), 0–29.

Sabra, M. M., & Sabra, M. M. (2021). *FDI and ODA effects on recipient countries imports : Evidence from selected MENA countries*. *XXVIII*(3), 101–114.

Submitted, T., & Policy, P. (2021). *Impact of Foreign Direct Investment on Export : An Empirical Analysis of the Ecowas Region By ADJEI , Evans Elikem Impact of Foreign Direct Investment on Export : An Empirical Analysis of the Ecowas Region By*.

Sudha, B. (2019). *Finance Foreign Direct Investment*. *April*. https://doi.org/10.15373/22778179/APR2013/61

Voda, A. D. (2022). *ECONOMIC GROWTH AND DEVELOPMENT , PROMOTERS OF NATIONAL NATIONAL WELL-BEING Lucian Blaga University of Sibiu*. *January*. https://doi.org/10.56043/reveco-2021-0047

Yan, R. (2023). *Neuroscience and Psychiatry : Open Access The Importance of Socio-Economic Research : Unveiling the Dynamics of Human Progress in Societies and Economies*. *6*, 50–52. https://doi.org/10.37532/npoa.2023.6(3).50-52

Barro, R. J. (1997). *Determinants of economic growth: A cross-country empirical study*. MIT Press.

International Monetary Fund. (2022). *World economic outlook: War sets back the global recovery*. IMF. https://www.imf.org/en/Publications/WEO

Todaro, M. P., & Smith, S. C. (2015). *Economic development* (12th ed.). Pearson.

United Nations Development Programme. (2021). *Human development report 2021/2022*. UNDP. https://hdr.undp.org

World Bank. (2023). *World development indicators*. World Bank. https://data.worldbank.org

Social Sceince
AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Determinants of Economic Growth in Afghanistan

Mohibullah Amini[1], Hekmatullah Khadim[2], Teaching Assistant. Abdul Malik Nazari[3], Teaching Assistant. Mohmmad Naim Kakar[4] & Shafiqullah Hashimi[5]
Department of BBA, Faculty of Economics, Helmand University
Department of Finance & Banking, Faculty of Economics, Helmand University
**Email:** mohibullahamini8@gmail.com

## Abstract

This study examines the determinants of economic growth in Afghanistan through the lens of economic growth theories. The primary objective of this research is to evaluate the effects of foreign direct investment (FDI), foreign aid, exports, and imports on Afghanistan's economic growth. In the quantitative section of the study, the Ordinary Least Squares (OLS) method and Co-integration techniques have been employed to identify the impact and long-term relationships of the independent variables. The OLS results indicate that foreign direct investment, imports, and exports have significant effects on Afghanistan's economic growth, while foreign aid does not show a significant impact. Additionally, Johansen Co-integration tests were used to determine the long-term relationships among the variables, and the findings confirm the existence of such a relationship. The study concludes that foreign direct investment has the greatest influence on Afghanistan’s economic growth. Based on these results, the researchers recommend that the Islamic Emirate of Afghanistan increase its focus on promoting foreign direct investment to achieve higher economic growth.

**Keywords:** Foreign Aid؛ Foreign Direct Investment؛ Imports؛ Exports؛ Economic Growth؛ Afghanistan.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**